۳۰ جولای ۲۰۱۹

UNAMA
د بشري حقونو خدمتونه

UNITED NATIONS
ASSISTANCE MISSION IN
AFGHANISTAN

## په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه شپږ میاشتني وروستي معلومات
## د ۲۰۱۹ کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د جون تر ۳۱ پورې

د ۲۰۱۹ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې، وسله والي جګړې ملکي وګړو ته د پام وړ زیان اړول جاري ساتلي، چې په زرګونو یې ټپي او وژلي، کورنۍ یې له خپلو کورونو بېځایه کړي او د پوهنې او روغتیا په ګډون یې اړین خدمتونه اغیزمن کړي. د ۲۰۱۹ کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د جون تر ۳۱ پورې، یوناما ۳۸۱۲ ملکي تلفات (۱۳۶۶ مړه او ۲۴۴۶ ټپیان) مستند کړي، چې د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله ۲۷ سلنه کموالی په ډاګه کوي چې دا ۲۰۱۲ کال راهیسې په شپږو میاشتو کې ترټولو کم تلفات دي. په داسې حال کې چې د ۲۰۱۹ کال په دویمه ربع کې د ټپي ملکیانو شمیر د لومړۍ ربعې له شمیر سره د پرتلې وړ دی، یوناما په روان کال کې د لومړۍ ربعې په پرتله په دویمه کې د ملکي وګړو په مړینه کې ۲۷ سلنه زیاتوالی مستند کړی. د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ ربع کې مستند شوي جریانونو دوام درلود. دولت ضد عناصر لا اوس هم د زیاترو ملکي تلفاتو د پیښیدو لامل دي. دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي ملکي مړینه (ټولټال تلفات نه دي) له هغې زیاته ده چې د دولت ضد عناصرو له خوا اړول شوې.




طالبان ادعا کوي چې دوي ته منسوب شوي ملکي تلفاتو کمښت د هغه احتیاطي تدابیرو له امله دی چې دوي د ملکي وګړو د خوندي ساتنې په موخه اخستي. دولت پلوه ځواکونه وایي چې د دولت ضد عناصرو له خوا ملکي وګړو کې کمښت اصلا د دوي د اغیزمن تدابیرو د اخستنې له امله دي چې د دولت ضد عناصرو بریدونه یې په شا تمبولي او په اغیزمن ډول یې د ملکي وګړو د میشت سیمې خوندي کړي.
په ټولیز ډول د ځانمرګو بریدونو او ځمکنیو نښتو له امله کموالی هغه اصلي فکټورونه وو چې د ملکي تلفاتو په عمومي کموالي کې یې ونډه درلوده په داسې حال کې چې د هوایي او چاپیزو عملیاتو په پایله کې ولسي مرګ ژوبله لوړه شوې.
د دولت ضد عناصرو له خوا د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو، د ۲۰۱۸ کال په پرتله د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ نیمایي کې دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي ملکي تلفات ۴۳ سلنه راکم شوي، په داسې حال کې چې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي ملکي تلفات ۳۱ سلنه لوړ شوي.
د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ نیمایي کې ځمکنۍ نښتې د ملکي تلفاتو مخکښ لامل ګڼل کیږي، چې د ټولو تلفاتو یو پر درې برخه یې اړولې. خو له دې سره سره، دا د ۲۰۱۸ کال د لومړۍ نیمایي په پرتله ۱۶ سلنه کموالی په ډاګه کوي.[1] د انتحاري او غیر انتحاري ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو یو ځای کارونه د ملکي تلفاتو دویم مخکښ لامل و، چې

[1] د ملګرو ملتونو د امنیت او خوندیتوب څانګې له معلوماتو سره سم، د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله د ۲۰۱۹ کال د جنوري د لومړۍ او جون د ۳۰ ترمنځ د وسله والو نښتو شمیر ۱۲ سلنه راکم شوی، کوم چې د ځمکنیو نښتو له امله په ملکي تلفاتو کې د ۱۶ سلنه کموالي سره د تناسب وړ دی.

انتحاري هغه يې د ټولټال تلفاتو د ۲۸ سلني او غير انتحاري هغه يې د ۲۰ سلني لامل شوي.[۲] د هوايي عملياتو په پايله کې اړول شوي تلفات ۱۴ سلنه جوړوي، چې په ۲۰۱۸ کال کې د ورته مودې په پرتله د پام وړ زياتوالي ښيي.[۳]

هغه ولسي وګړي چې په کابل، هلمند، ننګرهار، فارياب او غزني ولايتونو کې ژوند کوي، تر ټولو زيات اغيزمن شوي.[٤] يوناما په شمالي او شمال ختيځو سيمو په ځانګړي ډول په بلخ، بغلان او تخار ولايتونو کې په ملکي تلفاتو کې عمومي زياتوالی او دغه راز په پکتيکا ولايت کې په ولسي مرګ ژوبله کې په ځانګړي ډول د ژوبلي په پرتله په مرينه کې د پام وړ زياتوالی ملاحظه کړی.




## ښځې او وسله واله شخړه

ښځې لا اوس هم په افغانستان کې د وسله والې شخړې له امله په نا متناسب ډول اغيزمنې کيږي، د ژوند له لاسه ورکولو، ټپي کيدلو، د جګړې اړوند بېځايه کيدنې، اقتصادي نا امنۍ، او بنسټيزو خدمتونو ته د لاس رسي له نشتون څخه کړيږي. وسله واله جګړه دغه راز د ښځو په وړاندې نا برابرې او له تبعيض ډکې کړنې زياتوي، کوم څه چې له جنسي او د جنډر پر بنسټ تاوتريخوالي سره د هغوي مخ کيدل زياتوي.
د ۲۰۱۹ کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د جون تر ۳۰ پورې، وسله والې جګړې د ۴۳۰ تلفات (۱۴۴ مړي او ۲۸۶ ټپي) اړولي، چې په ۲۰۱۸ کال کې د ورته مودې په پرتله ۲۲ سلنه کموالی په ډاګه کوي. ځمکنۍ نښتې د ښځو د تلفاتو مخکښ لامل و، چې په تعقيب يې د انتحاري او غير انتحاري ځای پر ځای شويو چاودېدونکو توکو ګډه کاروونه او هوايي عمليات مخکښ لاملونه ګڼل کيږي. د ښځو تلفات د عمومي ټولټال تلفاتو ۱۱ سلنه جوړوي.
دولت ضد عناصرو د موازي عدلي جوړښتونو له لارې پر ښځو د ادعا شويو "غير اخلاقي" کړنو په تور د ناقانونه سزاګانو جاري کول او دغه راز يې د هغوي هدفي وژنې جاري ساتلي. د مثال په ډول، د جنوري پر ۴ د سرپل ولايت

---

[۲] دا د ۲۰۱۸ کال له لومړيو شپږو مياشتو سره پرتله شوي کله چې د انتحاري او غير انتحاري ځای پر ځای شوي چاودېدونکي توکي په ګډه د ملکي تلفاتو مخکښ لامل و، چې د ټولټال تلفاتو ۴۵ سلنه يې اړولي. د ملګرو ملتونو د امنيت او خونديتوب څانګې له معلوماتو سره سم، د انتحاري او غير انتحاري ځای پر ځای شويو چاودېدونکو توکو بريدونه ۲۰ سلنه راکم شوي، چې له امله يې د ملکي تلفاتو شمير ۵۴ سلنه راکم شوی، چې په زيان کې راکم شوی تناسب په ډاګه کوي.

[۳] د ۲۰۱۸ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې هوايي عملياتو د ټولو ملکي تلفاتو د ۷ سلنې لامل شوي. د ملګرو ملتونو د امنيت او خونديتوب د څانګې له معلوماتو سره سم، د ۲۰۱۸ کال په پرتله، د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ نيمايي کې د هوايي بريدونو د شمير ۳۱ سلنه زيات شوی، په داسې حال کې چې د دې تاکتيک له امله د ملکي تلفاتو په شمير کې ۳۹ سلنه زياتوالی راغلی.

[٤] کابل: ۴۷۳ ملکي تلفات (۶۳ مړه او ۴۱۰ ټپيان)؛ هلمند: ۴۴۰ ملکي تلفات (۱۶۰ مړه او ۲۸۰ ټپيان)؛ ننګرهار ۴۰۱ ملکي تلفات (۱۶۳ مړه او ۲۳۸ ټپيان)؛ فارياب: ۲۷۱ ملکي تلفات (۸۸ مړه او ۱۸۳ ټپيان)؛ او غزني: ۱۸۶ ملکي تلفات (۷۷ مړه او ۱۰۹ ټپيان).

په سانچارک ولسوالۍ کې، طالبانو یوه ۲۵ کلنه ښځه د زنا په تور په دورو ووهله. دغه سزا د زیات شمیر خلکو په شتون کې ترسره شوه. د جون پر ۲۷، د فاریاب ولایت په قیصار ولسوالۍ کې، طالبانو یوه ۳۰ کلنه ښځه او د هغې درې کلن ماشوم په خپل کور کې د خوب پر مهال وروسته له هغې په ډزو ووژل کله چې یې خاوند، هغه په زنا تورنه کړه او په اړه یې طالبانو ته شکایت وکړ.

**ماشومان او وسله واله شخړه**

د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ نیمایي کې، د جګړې اړوند تاوتریخوالي په افغانستان کې پر ماشومانو خپل بد اغیز روان ساتلي، په ځانګړي ډول د هغو ګواښونو چې هغوي ورسره له جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو، پر ښوونځیو او روغتونونو د بریدونو، او د جګړې د ښکیلو خواوو له خوا د ګمارنې او کارونې د زیانمنتوب له امله مخ دي. د ماشومانو په وړاندې د بچه بازۍ په ګډون د جنسي تاوتریخوالي لپاره روان معافیت یوه جدي اندیښنه ګڼل کیږي.
یوناما د ۲۰۱۹ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ماشومانو ۱۲۰۷ تلفات (۳۲۷ مړه او ۸۸۰ ټپیان) مستند کړي. دا په ۲۰۱۸ کال کې د ورته مودې په پرتله ۱۳ سلنه کموالی په ډاګه کوي. د ماشومانو د ټولو تلفاتو ۴۱ سلنه د ځمکنیو ښتو او په تعقیب یې د انتحاري او غیر انتحاري ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د ګډې کارونې او له جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو له امله رامنځ ته شوې. د ماشومانو تلفات د ټولټال عمومي تلفاتو نږدې یو پر دریمه برخه جوړوي.
ماشومان له جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو له امله د ملکي تلفاتو زیاتره برخه ۸۴ سلنه - جوړوي. د کال د اپریل پر ۱۴ په لغمان ولایت کې یوه ښوونځي ته څېرمه په یوه پېښه کې، له جګړې څخه پاته شوني یوې چاودیدونکې وسیلې هغه مهال اووه هلکان ووژل او اته نور یې ټپي کړل کله چې یې له نوموړې وسیلې سره په لوبو پیل وکړ. دغه تلفات له دې امله په ځانګړي ډول هیښوونکې دي ځکه چې د ماین پاکۍ د پروګرام له لارې په بشپړ ډول د مخنیوي وړ دي، د کومو لپاره چې اغیزمن شویو سیمو ته له ځنډ پرته لاسرسی خورا مهم دی.
د ۲۰۱۹ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې، یوناما د ۱۲ او ۱۷ کلونو ترمنځ د ۲۶ هلکانو ګمارنه او کارونه تایید کړې. له دغو هلکانو څخه ۲۳ یې د طالبانو له خوا د جګړې، چاودیدونکو توکو د ځای پر ځای کولو، وسلو د لیږد، جاسوسۍ او د خپلو اډو د امنیت لپاره کارول شوي. درې هلکان د افغان ملي امنیتي ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د ساتونکو په څیر، د وسلو د لیږد، ګزمو او یا د جنسي اهدافو لپاره کارول شوي.
د ۲۰۱۹ کال د جنوري د لومړۍ او جون د ۳۰ ترمنځ، یوناما د جګړې د ښکیلو خواوو له خوا د جنسي تاوتریخوالي څلور پیښې ثبت کړې چې پنځه ماشومان په کې شامل وو. پر دوو نجونو د دولت ضد عناصرو له خوا او پر دریو هلکانو د افغان ملي امنیتي ځواکونو او دولت پلوه وسله واله ډلو له خوا جنسي تیری شوی یا د بچه بازۍ لپاره کارول شوي. د دغو پیښو په اړه د کم راپور ورکوونې په پام کې نیولو سره، دغه شمیرې په هیواد کې تر ډیره د ستونزې اصلي کچه نه منعکسوي، او که په اړه یې هم راپور ورکړل شي، د خورا سختو حساسیتونو او د قرباني او شاهدانو د ساتنې د اندېښنو له امله یې تاییدول خورا ستونزمن دي.
یوناما په تخار ولایت کې د بچه بازۍ په تور د دوو مرتکبینو د محاکمه کیدو یادونه کوي. اګر که مرتکبین د د وسله وال ځواک یا وسله والو ډلو غړي ندي خو دا محاکمه د دغه ډول جدي سرغړونو د څیړنو او عدلي تعقیب او د جزا د نوي قانون چې د ۲۰۱۸ کال په فبروري کې نافذ شوی د بچه بازۍ په اړه د نوي احکامو د تطبیقولو لپاره د چارواکو اراده په ډاګه کوي. خو له دې سره سره، لا اوس هم د بچه بازۍ په زیاترو قضیو کې معافیت یوه معموله چاره ده او قربانیان له پیغور او د ټولنې له انزوا سره مخ کیږي. یوناما دولت هڅوي څو خپلې هڅې زیاتې کړي څو د بچه بازۍ قضیې وڅیړي او مرتکبین یې ګرفتار او تر عدلي تعقیب لاندې ونیسي.

**هغه پیښې چې ښوونیز او روغتیایي خدمتونه اغیزمنوي**

د ۲۰۱۹ کال د جنوري د لومړۍ او جون د ۳۰ ترمنځ، یوناما ۲۵ داسې پیښې مستندې کړي چې پوهنه یې اغیزمنه کړې، او زیاتره یې د کال په لومړۍ ربع او په ځانګړي ډول د هیواد په لویدیځو، ختیځو، شمال ختیځو او مرکزي سیمو کې پیښې شوې. د طالبانو له خوا د ۲۰۱۹ کال د جنوري او اپریل ترمنځ په فراه ولایت کې د هغو بریدونو په ګډون چې په فراه ولایت کې یې د نجونو ښوونځي په نښه کړي وو، ۱۶ پیښې طالبانو ته منسوب شوې. د مثال په ډول، د اپریل پر ۱۴، په فراه ولایت کې طالبان یوه ښوونځي ته ننوتل او د چاودیدونکو توکو په وسیله یې یو ښوونځی والوزاوه. دغې چاودنې د ښوونځي ودانۍ په جدي توګه زیانمنه کړه، چې په موقت ډول یې د شاوخوا ۱۰۰۰ زده کوونکو زده کړې له ځنډ سره مخ کړې. دا همدې کال کې دویم ځل و چې همدغه ښوونځي ته د طالبانو له خوا په روان کال کې اور ورته شو. طالبان دغه دواړه پیښې ردوي. د یوناما له خوا له طالبانو سره تر د خوندیتوب په اړه خبرو وروسته، په مۍ او جون میاشتو کې په فراه ولایت کې د ښوونځیو په ضد کومه پیښه نه ده ثبت شوې. سربیره پر دې، دوه پیښې چې پوهنه یې اغیزمنه کړې داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې ته ، درې پیښې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته ، یوه پیښه نړیوالو نظامي ځواکونو ته ، او پاتې درې پیښې په ګډه ټولو ته منسوب شوې.

یوناما ۳۸ داسې پېښې مستندې کړې چې روغتیايي مرکزونه او اړوند کارمندان یې اغیزمن کړي، او زیاتره یې د کال په لومړۍ ربع او په ځانګړې ډول د هیواد په ختیځ، جنوبي، او شمالي سیمو کې تر سره شوې. یوناما ۲۵ پېښې طالبانو ته، اووه افغان ملي امنیتي ځواکونو ته، دوه نړیوالو نظامي ځواکونو ته او پاتې پېښې نامعلومو دولت ضد عناصرو او ګډو منسوبونو ته منسوبې کړې. د مثال په ډول، د اپریل پر ۲۰، طالبانو د نورستان ولایت په څلورو ولسوالیو کې ۱۳ کلینیکونه د هغوی د خدمتونو د برابرولو په غوښتنه کې د پاتې راتلو له امله په زور وتړل. دغه کلینیکونو د مئ تر ۲۴ پورې تړلي پاتې وو، او د قومي مشرانو تر منځګړیتوب وروسته بیرته پرانیستل شول. د مئ پر ۱۲، طالبانو د بغلان ولایت په څلورو ولسوالیو کې ۱۱ نور کلینیکونه په زور وتړل. دغه کلینیکونه په هماغه اونۍ کې بېرته پرانیستل شول.
د مئ پر ۵، په زابل ولایت کې د افغان ملي پولیسو افسرانو د روغتون دوه کارمندان له دې امله ټپي کړل چې د روغتون دروازه یې زر تر زره خلاصه نه کړه چې دوي هلته د ورتګ کوښښ کولو. یو سړی د افغان ملي پولیسو له خوا په ډزو وویشتل شو او بل یې وډبول شو. پولیسو د روغتون د ودانۍ دننه د سپکو وسلو ډزې وکړې او یو ناروغ یې د طالبانو په تور ونیوه. نوموړی شخص د قومي مشرانو په منځګړیتوب یوه ورځ وروسته بیرته خوشې شو.
د اپریل پر ۱۱، طالبانو په ټول افغانستان کې د روغتیا د نړیوالې ادارې او نړیوال سره صلیب (آی سي آر سي ) پر فعالیتونو بندیز ولګاوه، چې له امله یې د واکسیناسیون ټول کمپاینونه بند شول. د ۲۰۱۹ کال په دویمه ربع کې هیڅ کمپاین نه دی ترسره شوی، سره له دې چې له یوه میلیون څخه زیات ماشومان د نورو وسیلو (لکه د لاس رسي نه وړ سیمو کې د ګرځنده دایمي ټیمونه له خوا واکسین او د هیواد نه تلونکي مسافرینو واکسین کول ) له لارې د پولیو ضد واکسین شوي. افغانستان په نړۍ کې یو له هغو کم شمیر هیوادونو څخه ګڼل کیږي چیرې چې د پولیو ناروغي شتون لري، چې په ۲۰۱۸ کال کې یې ۲۱ پیښې او په ۲۰۱۹ کال کې یې ۱۰ پیښې راپور شوي.[5] نهه دغه پیښې له هغو سیمو راپور شوي چې د دولت عناصرو له خوا د بندیز یا د رواني جګړې له امله د واکسینو ته لاسرسي له ستونزې سره مخ وې.

## د دولت ضد عناصر

د ۲۰۱۹ کال د جنوري له لومړۍ څخه د جون تر ۳۰ پورې، دولت ضد عناصرو ۱۹۶۸ملکي تلفات (۵۳۱ مړه او ۱۴۳۷ ټپیان) اړولي، چې په ۲۰۱۸ کال کې د ورته مودې په پرتله ۴۳ سلنه کموالي په ډاګه کوي.[6] د ځانمرګو بریدونو له امله په ملکي تلفاتو کې د پام وړ کموالي په ځانګړي ډول د داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې له خوا، له دغه عمومي جریان سره مرسته کړې.
یوناما د ټولو ملکي تلفاتو ۵۲ سلنه دولت ضد عناصرو ، چې ۳۸ سلنه یې طالبانو، ۱۱ سلنه یې داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې، او درې سلنه یې نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړې.

### *د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو انتحاري او غیر انتحاري بریدونه*

دولت ضد عناصرو د ۲۰۱۸ کال په پرتله د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ نیمایي کې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د لوړې کچې کم شمیر ځانمرګي بریدونه ترسره کړي، چې د دغه ډول تاکتیک څخه په ملکي تلفاتو کې د اړوند کموالي لامل شوی. د دولت ضد عناصرو له خوا د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو ځانمرګي بریدونه د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ نیمایي کې د ۳۰۳ ملکي تلفاتو (۵۹ مړه او ۲۴۴ ټپیان) لامل شوي، چې د ۲۰۱۸ کال د لومړۍ نیمایي په پرتله ۷۹ سلنه کموالی په ډاګه کوي.[7] طالبانو د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو نهه بریدونه ترسره کړي چې ۲۶۸ ملکي تلفات (۴۴ مړه او ۲۲۴ ټپیان)[8] یې اړولي په داسې حال کې چې داعش/د خراسان ولایت اسلامي دولت ډلې دوه دغه ډول بریدونه ترسره کړي چې ۳۴ ملکي تلفات (۱۵ مړه او ۱۹ ټپیان) یې پېښ کړي.[9]
په لومړۍ ربع کې د راپور شویو جریانونو برعکس، یوناما د ۲۰۱۹ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د غیر انتحاري بریدونو له امله په ملکي تلفاتو کې کموالی مستند کړی. د دې ترڅنګ یوناما له اندیښنې سره د دولت ضد عناصرو له خوا د ناقانونه فشاري ماینونو د دوامدارې بې توپیره کارونې یادونه کوي، کومه چې د ۲۰۵ ملکي تلفاتو (۵۸ مړه او ۱۴۷ ټپیان) لامل شوې او زیاتره یې طالبانو ته منسوب شوې.[10] د فشاري ماینونو د پېښو له نیمايي زیاته برخه چې ملکي تلفات یې اړولي د هیواد په جنوبي سیمو کې رامنځ ته شوې. د مثال په ډول د جون پر ۱۱، پر یوې نقلیه وسیلې چې د کندهار ولایت په ډنډ ولسوالۍ کې یې سفر کاوه د طالبانو له خوا د سړک غاړې ځای پر ځای شوې فشاري ماین وچاود، چې له امله یې په موټر کې سپاره دوه نارینه ووژل شول او څلور ماشومان ټپي

[5] دغه انټرنیټ پاڼه وګورئ:
http://polioeradication.org/polio-today/polio-now/this-week/#weekly-country-updates-as-of-10-july-2019-0
[6] د ۲۰۱۸ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې یوناما د دولت ضد عناصرو ته ۳۴۵۸ ملکي تلفات (۱۱۴۲ مړه او ۲۳۱۶ ټپیان) منسوب کړي.
[7] د ۲۰۱۸ کال د جنوري له لومړۍ څخه د جون تر ۳۰ پورې، یوناما د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو له امله ۱۴۱۳ ملکي تلفات (۴۲۷ مړه او ۹۸۶ ټپیان) ثبت کړي.
[8] په ۲۰۱۸ کال کې، یوناما د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو ۱۶ ځانمرګي پیښې طالبانو ته منسوب کړي، چې د ۵۶۳ ملکي تلفاتو (۱۹۰ مړه او ۳۷۳ ټپیان) لامل شوي.
[9] په ۲۰۱۸ کال کې، یوناما د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو ۱۷ ځانمرګي پیښې داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې ته منسوب کړي، چې د ۸۱۵ ملکي تلفاتو (۲۳۴ مړه او ۵۸۱ ټپیان) لامل شوي.
[10] دا په ۲۰۱۸ کال کې د ورته مودې په پرتله د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ نیمایي کې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د فشاري ماینونو له امله په ملکي تلفاتو کې ۳۷ سلنه کموالی وړاندې کوي.

شول. د پولیسو چارواکو له معلوماتو سره سم، په دغې چاودیدونکې وسیله کې زیاته اندازه چاودیدونکي توکي ځای پر ځای شوي وو چې د نظامي زغروالو موټرو د ویجاړولو په موخه اېښودل شوي وه.
یوناما یو ځل بیا ټینګار کوي، چې د قرباني په وسیله فعالیدونکي د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو فشاري وسیلې د پرسونل ضد ځمکنیو ماینونو په څېر کار کوي کوم چې د پرسونل ضد ماینونو په اړه د اوټاوا تر کنوانسیون لاندې چې افغانستان یې غړیتوب لري، منع دي. دغه وسیلې په ځانګړې توګه ولسي وګړو ته زیان رسوونکې دي، ځرنګه چې هغه په ذاتي ډول بې توپیره دي او هغومره چې یې د په پام کې نیول شوی نظامي هدف له لارې فعالیدل شونی ده، احتمال لري چې د یوه ملکي شخص په وسیله هم فعاله شي؛ او احتیاطي تدابیر چې هر څومره وي کافي ندي چې ولسي وګړو ته د دغو وسیلو د تمې وړ خطر کچه دي راکمه کړي. یوناما یو ځل بیا پر دولت ضد عناصرو غږ کوي چې د ملکي وګړو د غوره ساتنې د یوه کلیدي ګام په څېر د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د ټولو فشاري ماینونو کارونه ژر تر ژره پای ته ورسوي.

***د ملکي کسانو عمدي په نښه کول***

یوناما په اندیښنې سره د دولتي چارواکو، قومي مشرانو، مرستندویه کارکونکو، دیني علماوو، ملایانو او د عبادت او فرهنګي ځایونو په شمول، د ملکي کسانو او ملکي اهدافو پر وړاندې دوامداره په عمدي ډول په نښه کول مستند کړي.

د ۲۰۱۹ کال د جنوري د لومړۍ او د جون د ۳۰ تر منځ، یوناما د دولت ضد عناصرو د بریدونو په نتیجه کې په کومو کې چې یې په عمدي توګه ملکیان په نښه کړې ټولټال ۹۸۵ تلفات (۳۰۶ مړیني او ۶۷۹ ټپیان) مستند کړي. په داسې حال کې چې دا د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله ۵۱ سلنه کموالی ښیي، یوناما په اندیښنې سره یادونه کوي چې دا بریدونه د ټولو ملکي تلفاتو د ۲۶ سلنې لامل شوي او د نیمایي څخه زیات ملکي تلفات دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي.[11]

د ځانمرګو او غیر ځانمرګو ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو او همدارز د سپکو وسلو او لاسي بمونو د یو شمیر تاکتیکونو د کارولو په شمول، دولت ضد عناصرو د ملکیانو او ملکي جوړښتونو پر وړاندې یو شمیر بریدونه ترسره کړي. د می په ۸، په کابل کې نږدې غرمه مهال، طالبانو د کاونټر پارټ انټرنشنل موسسې پر وړاندې په یوه برید کې په کوم کې چې په موټر کې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو، سپکو وسلو او لاسي بمونو څخه کار اخیستل شوی، اته تنه ملکیان ووژل او ۲۷ نور ټپیان کړل. په داسې حال کې چې د قربانیانو په منځ کې د کاونټر پارټ انټرنشنل موسسې کارکونکي موجود نه وو، خو د پاملرنې د نړیوالې موسسې درې تنه د وژل شویو کسانو له جملې څخه وو. طالبانو د ټویټر او نورو عامه بیانونو له لارې د پیښې مسئولیت ومانه او ادعا کوي چې یادې موسسې "د ښځو او نارینه وو تر منځ اختلاط ترویجاوه " او د "غرب پلوه موخو د تطبیق په برخه کې یې د کابل د امنیتي ادارې او نور پرسونل سره همکاري کوله".[12]

د جون په ۲۸، د سمنګان ولایت په ایبک کې، د ریموټ کنټرول په واسطه کنټرولیدونکي ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي چې د طالبانو له خوا ځای پر ځای شوي وو په جومات کې د جمعې د لمونځ پر مهال وچول چې په نتیجه کې یې ۱۴ ملکیان د کومو عمرونه چې د ۱۳ او ۱۸ کلونو تر منځ وو ټپیان کړل. د سرچینو په حواله، طالبانو غوښتل هغه ملا په نښه کړي ، څوک چې د علماوو د شورا غړی دی او چا چې په تیرو خطبو کې د افغان ملي او امنیتي ځواکونو ستاینه کړې وه.

د لوړې کچې د ملکي زیان په پرتله چې د ۲۰۱۸ کال دپارلماني ټاکنو د رای ورکوونکو د ثبت د بهیر پر مهال ریکارډ شوی، د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ نیمايي موده کې، د ټاکنو پور اړوند هیڅ ملکي تلفات ندي ثبت شوي ، چې موخه یې د ولسمشرۍ د ټاکنو لپاره د رای ورکونکو د تقویتي نوملیکنې د پروسې په نښه کول وي، نه دي ثبت شوي چې تمه ده د سپټمبر په ۲۸ ترسره شي.[13] د غزني په ولایت کې چیرې چې د رای ورکونکو بشپړه نوملیکنې پروسترسره شوه، یوناما ټاکنو پورې اړوند پنځه پیښې کومو چې ټاکنیز بهیر په نښه کړ ، مستندې کړې، ټولې طالبانو ته منسوبې شوې. [14] د جون په ۱۹، د غزني په ښار کې، ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي د یوه ښوونځي په انګړ کې چې د رای ورکوونکو د ثبت د مرکز په څېر کاریده وچول چې په نتیجه کې یې د افغان ملي پولیسو درې تنه کار کونکي چا چې د

---

[11] په ۲۰۱۸ کال کې، یوناما د ځای پر ځای شویو ځانمرګو چاودیدونکو توکو ۱۶ پیښې طالبانو ته منسوب کړې چې په نتیجه کې یې ۵۶۳ ملکي تلفات (۱۹۰ مړیني او ۳۷۳ ټپیان) را منځ ته شوې.
[12] د جهاد غږ، د ۲۰۱۹ کال د می ۸، په لاندې پته د لاسرسي وړ ده: https://alemarahenglish.com/?p=45608# (وروستي ځل ورته د ۲۰۱۹ کال د جولای په ۲۱ لاسرسی شوی).
[13] د رای ورکونکو د نوملیکنې تقویتي بهیر چې ولسمشریزو ټاکنو چې د سپټمبر په ۲۸ مه به ترسره کیږي ، د غزني د ولایت په استثناو چیري د رای ورکونکو د نوم لیکنې بهیر د جولای تر اتمې وغځول شو، د هیواد په کچه د جون له ۸-۲۹ پورې ترسره شو.
[14] په غزني ولایت کې، د راي ورکونکو نوملړ د یوې اونۍ لپاره وغځول شو او د جولای په ۶ وتړل شو.

رایو د مرکز ساتنه کوله، تیپیان کړل. په نورو پیښو کې د برید او د رای ورکوني د ثبت د مرکز د رییس د تښتوني په اړه ګواښونه موجود وو، څوک چې د څو ورځو لپاره د طالبانو په توقیف کې وو او وروسته بیا د قومي مشرانو په منځګړیتوب له توقیف څخه را خوشی شو.[۱۵]

د دولت د ملکي کارکونکو او ملکي شیانو په شمول، یوناما ټینګار کوي، هغه ملکیان چې په جګړو کې په مستقیم ډول برخه نه اخلي، باید هیڅکله د برید موخه ونه ګرزول شي. یوناما په کلکه د دولت ضد عناصرو څخه غوښتنه کوي چې د ملکیانو او ملکي شیانو لپاره هغه تعریف وکاروي کوم چې د نړیوال بشر دوستانه قانون سره اړخ لګوي او بیا د دولت ضد عناصرو باندې ټینګار کوي چې په قصدي ډول ملکي خلکو او ځایونو هدف ګرځول سملاسي ودروي.

یوناما په دوامدار ډول داسې پیښې مستندې کړي په کومو کې چې د دولت ضد عناصرو ملکي کورونه او نور ملکي شیان (ملکیتونه) د نظامي موخو لپاره کارولي. دمثال په توګه د دولت ضد عناصرو لخوا دعملیاتواوبریدونو لپاره دداسې ساحو تعینول چې ملکي وي او یا د دولت پلوه ځواکونو سره د نښتې پرمهال په ملکي کورونو کې پناه اخستل.

یوناما د جګړې ښکېلو خواوو ته د هغه مکلفیت بیا یادونه کوي چې د جګړې په چمتووالي او ترسره کولو کې د تفکیک د اصل درناوي وکړي، کوم چې د جګړې له ښکېلو خواوو د دې غوښتنه کوي چې د ملکي وګړو او جنګیالیو او د ملکي شیانو او نظامي موخو ترمنځ څرګند توپیر وکړي. د دغه مکلفیت مهمه برخه له برید څخه د نظامي موخو د خوندي کولو یا د نظامي عملیاتو د مخنیوي لپاره د ملکي وګړو د کاروني منع کول دي. پر دې باید ټینګار وشي چې د جګړې د ښکېل د یوه لوري له خوا د دغو اصولو په رعایت کولو کې پاتې راتلل مخالف لوري د نړیوال قانون لاندې د تفکیک، احتیاطي تدابیرو او د تناسب اصولو په تړاو له مکلفیتونو څخه نه بري کوي.

**دولت پلوه ځواکونه**

د ۲۰۱۹ کال د جنوري د لومړۍ څخه د جون تر ۳۰ پورې، یوناما ټولټال ۱۳۹۷ ملکي تلفات (۷۱۷ مړیني او ۶۸۰ ټپیان) دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي، دا د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله ۳۱ سلنه زیاتوالی ښیي.[۱۶] دولت پلوه ځواکونو د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ نیمایي کې ۳۷ سلنه ملکي تلفات اړولي. (افغان ملي امنیتي ځواکونه ۱۸ سلنه، نړیوالو پوځي ځواکونه ۱۲، دولت پلوه وسله والي ډلې ۲ سلنه او پاته برخه یې ناڅرګندو یا متعددو دولت پلوه ځواکونو ته منسوب دي). دا د ۲۰۱۸ کال په لومړۍ نیمایي کې د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ټولو را منځ ته شویو ملکي تلفاتو د ۲۰ سلنې سره پرتله کیږي. ماموریت د ځمکنیو نښتو په پایله کې ، چې زیاتره افغان ملي امنیتي ځواکونو ته ، د هوایي بریدونو په پایله کې چې ، زیاتره نړیوالو پوځي ځواکونو ته او د تلاشي د عملیاتو په پایله کې چې، زیاتره د ملي امنیت ریاست ځانګړو ځواکونو، د خوست ژغورني ساتندویه ځواک او په پکتیکا کې میشت شاهین ځواکونو ته منسوبیږي چې ملاتړ یې د نړیوالو ځواکونو له خوا څخه کیږي، د ملکي تلفاتو په برخه کې زیاتوالی مستند کړی.

***هوایي عملیات***

د متحده ایالتونو د ستراتیژۍ د یوې برخې په حیث د راپورونو د زیاتیدو په منځ کې چې موخه یې د طالبانو د مشرانو په ښبه کول دي څو د یوه سیاسي جوړجاړي لپاره شرایط را منځ ته کړي،[۱۷] د ۲۰۱۸ کال د ورته مودې په پرتله د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ نیمایي موده کې د هوایي عملیاتو په نتیجه کې ملکي تلفات په دوامداره توګه زیات شوې. د لومړۍ ربع په پرتله د ۲۰۱۹ کال په دوهمه ربع کې د دې تاکتیک په نتیجه کې هم د هوایي بریدونو د پیښو په شمیر او ملکي تلفاتو کې زیاتوالی راغلی. د ۲۰۱۹ کال د جنوري د لومړۍ څخه د جون تر ۳۰، د هوایي بریدونو په نتیجه کې ۵۱۹ ملکي تلفات (۳۶۳ مړیني او ۱۵۶ ټپیان) را منځ ته شوي، له دې جملې څخه ۱۵۰ ماشومان (۸۹ مړیني او ۶۱ ټپیان) وو. د ۲۰۱۸ کال د لومړۍ نیمایي په پرتله د دې تاکتیک په نتیجه کې د ټولو ملکي تلفاتو په برخه کې ۳۹ سلنه زیاتوالي راغلی. په داسې حال کې چې د ټپیانو په شمیر کې کموالی راغلی، د ۲۰۱۸ کال د لومړیو شپږو میاشتو په پرتله د دوو برابرو څخه زیات ملکیان وژل شوي، چې دا د دې تاکتیک مرګونی ماهیت جوتوي. یوناما د ملکي تلفاتو ۸۳ سلنه چې

---

[۱۵] یوناما همدارنګه د کندهار ولایت د معروف په ولسوالۍ کې د ۲۰۱۹ کال د جون په ۳۰ یو پیښه ثبت کړه، په کومه کې چې طالبانو د ولسوالۍ په اداري مرکز همغږي برید ترسره کړ. د څلورو ځانمرګو موټر بم وسیلو د چاودیدو له امله په کومو کې چې چاودیدونکي توکي ځای پر ځای شوې وو، د ټاکنو د خپلواک کمیسون څلور غړي ووژل شول. د ټاکنو د خپلواک کمیسون یو غړي هم د افغان ملي پولیسو د چارواکو تر څنګ وتښتول شو. دا د یوناما تحلیل دی چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون غړي د برید یا اختطاف هدف نه و او پدې توګه دا پیښه په ټاکنو پورې اړونده پیښه نه دي ثبت شوې.

[۱۶] د ۲۰۱۸ کال د جنوري د لومړۍ څخه د جون تر ۳۰ ، یوناما ټولټال ۱۰۶۹ ملکي تلفات (۴۲۳ مړینې او ۶۴۶ ټپیان) دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي.

[۱۷] د سیګار راپور، د سینتینیل د ازادي عملیات، د ۲۰۱۹ کال د جنوري ۱- د مارچ ۳۱، په لاندې پته د لاسرسي وړ ده:
https://www.stateoig.gov/system/files/fy2019_lig_oco_report.pdf (وروستي ځل ورته د ۲۰۱۹ کال د جولای پر ۲۱ لاسرسی شوی).

د هوايي بریدونو په پایله کې را منځ ته شوې نړیوالو پوځي ځواکونو ته، ۹ سلنه افغان هوايي ځواک ته ، او پاته اته سلنه نا پیژاندو دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړې.

یوناما د هوايي عملیاتو په نتیجه کې د ملکي زیان د لوړې کچې په اړه ، په ځانګړې توګه د هغو عملیاتو په اړه چې د افغان ځواکونو په ملاتړ په څمکه کې ترسره کوي او په ملکي جوړښتونو بریدونه کوي، په دوامداره توګه جدي اندیښنې څرګندوي. د بیلګې په توګه، د مارچ په ۲۵، د شپې په شاوخوا لسو بجو د کابل په سروبي ولسوالي کې افغان ملي پوځ او د متحده ایالتونو پوځي ځواکونو د یوه ځایي طالب قومندان په کور د تلاشي عملیات تر سره کړل چې په نتیجه کې یې د طالبانو سره ډزې تبادله شوې. د هوايي ملاتړ غوښتنه وشوه، چې په نتیجه کې یې د دریو ښځو او یوه هلک په شمول پنځه تنه ملکیان ووژل شول او د دریو ښځو په شمول څلور نور ټپیان شول. د غوڅ ملاتړ ماموریت له پیښې ژر وروسته، په یوه مطبوعاتي بیان کې ومنله چې څلور ښځې او یو ماشوم په پیښه کې وژل شوي. [۱۸]

د مې په ۲۳ په یوه بله پیښه کې، د فراه ولایت په شیب کوه ولسوالي کې، نړیوالو پوځي ځواکونو یو هوايي برید ترسره کړ چې د راپور سره سم یې د طالبانو یو موقعیت په نښه کړ، چې له امله یې د یوې محلي نادولتي سازمان دوه نارینه کارکونکي ووژل چې د حفظ الصحي په برخه کې یې خدمتونه وړاندې کول. دې برید همدارنګه د یاد نادولتي سازمان ودانۍ له منځه یووړه او د پروژې یوه نقلیه وسیله یې هم زیانمنه کړه.

د ملکي زیان لوړه کچه چې د دغو بریدونو په پایله کې را منځ ته کیږي هغه خطرونه په ډاګه کوي چې په ګڼ میشتو ملکي سیمو، یا کورونو او نورو ملکي جوړښتونو کې د بریدونو د ترسره کولو سره تړلي دي. یوناما د هوايي بریدونو په نتیجه کې د ملکي تلفاتو د زیاتیدونکې شمیر ، د هدف نیولو د معیارونو او د ښکیلتیا څخه وړاندې د احتیاطي تدبیرونو د دوامدارې بیا کتنې پر سر د ټینګار په اړه ، په خاص ډول په هغه احتمال غور کول چې ممکن په ورته تعمیرونو او موقعیتونو کې دولت ضد عناصر شتون ولري په دوامداره توګه د تیرو څو کلونو په ترڅ کې خپلې اندیښنې مطرح کړې.

***د مخدره توکو د تولید په مرکزونو هوايي بریدونه***

د ۲۰۱۷ کال په اګسټ کې د جنوبي آسیا لپاره د متحده ایالتونو د ستراتیژۍ د اعلان وروسته او د افغانستان کې د متحده ایالتونو د ځواکونو [۱۹] لپاره د ښکیلتیا د قواعدو د نرمښت په تعقیب، افغانستان کې د متحده ایالتونو ځواکونو د مخدره توکو د تولید د مرکزونو په شمول چې په (عمومي توګه د لابراتوارونو په نوم یادیږي) په نښه کړل چې د دولت ضد عناصرو د عایداتو سرچینې وچې کړي.[۲۰] یوناما وروسته د یو شمیر ملکي جوړښتونو پر وړاندې چې ګمان کیده د مخدره توکو د لابراتوارونو په حیث ترې کار اخیستل کیده یو شمیر هوايي بریدونه ثبت کړي، دا هوايي بریدونه ډیری وختونه په څمکه د مخدره توکو سره د مبارزې د عملیاتو د ملاتړ په موخه د شپې پر مهال ترسره شوي.

افغانستان کې د متحده ایالتونو ځواکونو د ۲۰۱۹ کال د لومړۍ ربعې څخه وروسته څرګنده کړې وه چې د مخدره توکو د پروسس کولو د لابراتوارونو او زیرمتونونو پر وړاندې یې خپل کمپاین پای ته رسولی دی.[۲۱] که څه هم چې د می په پنځمه، د ورځې پر مهال، افغانستان کې د متحده ایالتونو ځواکونو د فراه ولایت د بکوا په ولسوالي کې چې د نیمروز ولایت دلارام ولسوالي ته غځیدلې د مخدره توکو د تولید د ۶۰ څخه د زیاتو لابراتوارونو پر وړاندې یو شمیر هوايي بریدونه ترسره کړل. د متحده ایالتونو د ځواکونو په حواله، یادو ځواکونو د میتامفیتامینو لابراتوارونه چې د طالبانو له خوا کنترولیدل او پر مخ وړل کیدل په نښه کړل، د یادو ځواکونو په خبره په لابراتوارونو کې ټول موجود پرسونل طالب جنګیالي وو. افغانستان د متحده ایالتونو ځواکونو ارزونه کړې چې د دغه عملیاتو په نتیجه کې هیڅ ملکي تلفات نه دي را منځ ته شوي.

---

[۱۸] طلوع نیوز وګورئ ، د ۲۰۱۹ کال د مارچ ۲۶، په لاندې پته د لاسرسي وړ ده: http://prod.tolonews.com/afghanistan/five-civilians-killed-afghan-forces-operation-surobi (وروستي ځل ورته د ۲۰۱۹ کال د جولای په ۲۱ لاسرسی شوی).

[۱۹] نیویارک ټایمز وګورئ، د ۲۰۱۹ کال د جون ۶، په لاندې پته د لاسرسي وړ ده: https://www.nytimes.com/2017/10/06/world/asia/mattis-afghanistan-rules-of-engagement.html (وروستي ځل ورته د ۲۰۱۹ کال د جولای په ۲۱ لاسرسی شوی).

[۲۰] د متحده ایالتونو د دفاع وزارت مطبوعاتي لنډیز، د ۲۰ نومبر ۲۰۱۷، پدې پته موجود دي: https://dod.defense.gov/News/Transcripts/Transcript-View/Article/1377753/department-of-defense-press-briefing-by-general-nicholson-via-teleconference-fr/ (وروستي ځل ورته د ۲۰۱۹ کال د جولای په ۱۶ لاسرسی شوی).

[۲۱] د سیګار راپور، د سینتینیل ازادي عملیات، د ۲۰۱۹ کال د جنوري د لومړۍ څخه د مارچ تر ۳۱، په لاندې پته د لاسرسي وړ ده: https://www.stateoig.gov/system/files/fy2019_lig_oco_report.pdf (وروستي ځل ورته د ۲۰۱۹ کال د جولای په ۲۱ لاسرسی شوی).

(وروستي ځل ورته د ۲۰۱۹ کال د جولای په ۲۱ لاسرسی شوی.)

خو یوناما د دغه عملیاتو له امله د زیات شمېر ملکي تلفاتو په اړه متعدد راپورونه ترلاسه کړي. یوناما بکوا ولسوالۍ ته سفر وکړه ، کومه چې د طالبانو د ولکې لاندې ده. د یوناما له خوا د دغې پېښې په نتیجه کې د را منځ ته شویو ملکي تلفاتو د تاییدولو چارې روانې دي. یوناما غواړي چې د دې پېښې په اړه یو جلا راپور نشر کړي.

### د تلاشي عملیات

د ۲۰۱۹ کال د جنوري د لومړۍ او د جون د ۳۰ تر منځ، یوناما د تلاشي د عملیاتو په پایله کې ۲۱۸ ملکي تلفات (۱۵۹ مړینې او ۵۹ ټپیان) مستند کړي چې له دې جملې څخه تر نیمایي زیات یې د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو له خوا را منځ ته شوي.[22] دا د ۲۰۱۸ کال د لومړۍ نیمایي مودې په پرتله چې کله یوناما ۱۲۲ ملکي تلفات (۹۹ مړینې او ۲۳ ټپیان) ثبت کړل، ۷۹ سلنه زیاتوالی ښیي.

یوناما د پلټنې د عملیاتو پر مهال د لوړې کچې ملکي زیانونوپه اړه په وروستي راپورونو کې زیاتې اندېښنې راپورته کړې، په ځانګړې توګه د هغو عملیاتو په اړه چې د ملي امنیت د ځانګړو ځواکونو، د خوست ساتنې ځواک، او د شاهین ځواکونو لخوا ترسره شوي. په ۲۰۱۹ کال کې، یوناما همدا راز په پکتیکا ولایت کې د تلاشي د عملیاتو په پایله کې د را منځ ته شویو ملکي تلفاتو په مستند کولو هم پیل کړي چې د دولت پلوه وسله واله ډلو لخوا ترسره شوي چې په محلي توګه د "شاهین ځواک" په نامه یادیږي چې ملاتړ یې د متحده ایالتونو د ځواکونو لخوا کیږي.

یوناما مستند کړې چې د دې ځواکونو لخوا د تلاشي په ترسره شویو عملیاتو کې د پام وړ زیات ملکي تلفات را منځ ته شوي چې د افغان ملي اردو لخوا د ترسره شویو عملیاتو په پرتله دغه عملیاتو کې د مړینې کچه لوړه وه. د ملکي تلفاتو د زیاتېدونکې شمېر سربېره، د عمدي وژنو، شکنجې او ناوړه چلند، اجباري نیونو، شتمنۍ ته په قصدي ډول زیان اړول او نورو سرغړونو په شمول، یوناما د دغو ځواکونو له خوا د بشري حقونو بوږنوونکې سرغړونې مستند کړې. د بېلګې په توګه، د فبروري د ۲۲ نیټې څخه تر ۲۳ شپې پورې، د ملي امنیت د ریاست ځانګړو ځواکونو د نړیوالو پوځې ځواکونو په ملاتړ د میدان وردګو د ولایت په دای میرداد ولسوالي په ګڼ شمېر کلیو کې د طالبانو په موقعیتونو کې د پلټنې عملیات په لار واچول. د دې عملیاتو پر مهال، ځمکنیو ځواکونو د کورونو د دروازو د له منځه وړلو لپاره چاودېدونکې توکي کارولي. دغو ځواکونو یوه ښځه او د هغې میړه، د هغوی ماشومان او خپلوان د خپلو خونو څخه را ایستلي، د پلار او مشر زوی سترګې یې ور تړلي او د کورنۍ پاته غړي یې ګاونډ کور ته دننه کړي. پلار یې د کور په پارکنګ کې د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو له خوا په ډزو ووژل شو، زوی یې توقیف او کابل ته ولیږدول شو. د عملیاتو پر مهال، یو بل ملکي شخص په هماغه کلي کې د هغه په کور کې په ډزو ووژل شو.

یوناما ټینګار کوي چې د شخړې د هرې ډلې له خوا د هغو کسانو وژل چې په جګړو کې فعاله برخه نه اخلي د ژنیو د کنوانسیونونو د دریمې ګډې مادې له خوا په هر وخت او هر ځای کې په څرګند ډول منع دي او ښایي په جنګي جرمونو کې وشمیرل شي. یوناما همدارنګه ټینګار کوي چې د بشري حقونو د نړیوال قانون لاندې د یوه شخص ناقانونه وژنه د ژوند د حق څخه سرغړونه تشکیلوي. دولتونه باید د قانون د پلې کولو په عملیاتو او د ژوند د حق د ادعا شویو سرغړونو په زمینه کې چې د وسله والې شخړې پر مهال ترسره کیږي د هغوی د فعالینو له خوا د وژونکي ځواک کارول وڅیړي.[23]

لکه څنګه چې په وار وار د مخه غوښتنه شوې، یوناما د افغان چارواکو څخه غوښتنه کوي څو د خوست ژغورنې ځواک او شاهین ځواکونو په شمول ټولې وسله والې ډلې او ملیشه یې ځواکونه ژر تر ژره منحل او بې وسلې کړي، یا یاد ځواکونه د ارزونې د یوه پیاوړي طرزالعمل وروسته د افغان ملي امنیتي ځواکونو د غړو سره په رسمي توګه یو ځای کړي، د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو د عملیاتو په حواله، کوم چې د دولت د قوماندې د رسمي سلسله مراتبو څخه د باندې عمل کوي، د روڼوالي او احتساب چارې پیاوړې کړي او د احتساب د یقیني کولو په خاطر د بشري حقونو د سرغړونو او د نړیوال بشر دوستانه قانون ټولې ادعاوې و څیړي.

---

[22] ۲۰۱۹ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې، د ملي امنیت ځانګړي ځواکونه د ۱۱۵ ملکي تلفاتو ( ۷۹ مړینې او ۳۶ ټپیان) لامل شوي. یوناما دولت پلوه ملېشو، لکه د خوست ژغورنې ځواک او شاهین ځواکونو ته د پلټنو د عملیاتو په پایله کې ۳۹ ملکي تلفات (ټولې مړینې)؛ د افغان ملي اردو لخوا د تلاشي د عملیاتو په پایله کې ۲۵ ملکي تلفات (۱۲ مړینې او ۱۳ ټپیان) نړیوالو پوځې ځواکونو ته څلور ملکي تلفات (ټول ټپیان)؛ او پاتې نور یې په ګډه بیلابیلو د دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي.

[23] د غیر قانوني، اجباري، صحرایي اعدامونو د موثره مخنیوي او تحقیق په اړه د ملګرو ملتونو د اصولو ۹، ۱۰ او ۱۷ پراګرافونه، چې د ۱۹۸۹ کال د مې په ۲۴ د اقتصادي او ټولنیزې شورا د ۶۵/۱۹۸۹ پریکړه لیک لخوا تصویب شو. د غیر نړیوالو وسله والو شخړو په اړه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا او د عمومي غونډې پریکړه لیکونه چې د غیر نړیوالې وسله والې شخړې په اړه دي، هم وګورئ، د ټولو اړخونو غوښتنه کوي څو د بشري حقونو نړیوال قانون ته درناوی وکړي.




*د ۲۰۰۹ کال راهیسي یوناما په سستماتیک ډول د ملکي وګړو تلفات ثبت کړي چې د افغانستان په جګړه کې ښکېلو خواو ته منسوب شوي چې د دې لپاره یو شان میتود کارول کیږي، چې له امله یې د کال په کال د تمایلاتو تحلیل او راپور ممکن شوی. د یوناما د ملکي وګړو د خوندیتوب کار اصلي بنسټ نړیوال بشري حقوق قانون او نړیوال بشر دوستانه قانون اصول دي، او د دې میتودولوجي بنسټ هم د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمشنرۍ د غوره تعاملاتو، توصیه او لارښودونو پر بناء دی. د ملکي تلفاتو رامنځ ته کیدل د سرغړونې ترسره کیدو په مانا ندي، اما د زیات شمیر تلفاتو اوښتل شاید د سرغړونو ښکارندوي وکړي یا د زیات اوښتلو نوعیت څرګند کړي. یوناما په جګړه کې د ښکېلو خواو سره لګیا ده چې د ملکي تلفاتو په اړه معلومات تر لاسه کړي. او همدغه معلومات د ملکي تلفاتو د پیښو د تحلیل په مهال په نظر کې نیول کیږي. یوناما د ملکي تلفاتو د پیښو تعقیب په اړه میتودولوجي کې توپیرونو ته پاملرنه کوي، د نړیوال بشر دوستانه قانون تفسیر ته او د خبرونو د منبعو چې په ځانګړي ډول یې د ملکي تلفاتو په پیښو په نتیجه معلومولو کې مرسته کړي وی، دا چې عمومي هدف د ملکي تلفاتو د راکمولو دی، نو یوناما ژمنتیا لري چې په جګړه کې د ښکېلو خواو سره بحثونه وکړي چې ملکي خلک په بنه توګه خوندي وساتل شي.*[۲۴]

[۲۴] د نور معلومات د پاره په وسلواله جګړه کې د ملکي تلفاتو خوندیوب په اړ د یوناما ۲۰۱۸ کالني راپور i او ii صفحو ته په دې ادرس مراجعه وکړئ. https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports.